د افغانستان اسلامي جمهوریت
دعدلیې وزارت

# رسمي جریده

فوق‌العاده ګڼه

- د مسلکي محاسبینو قانون
- د ګمرکونو د کادر د تنظیم مقرره
- د مدرسو او د مسلکي تعلیماتو د مؤسسو د تدریسي فني کادر د حقوقو او امتیازونو د مقررې د دوه یمې او اتمې مادې تعدیل

- قانون محاسبین مسلکی
- مقررهٔ تنظیم کادر گمرکات
- تعدیل مواد دوم و هشتم مقررهٔ حقوق و امتیازات کادر فنی تدریسی مدارس مؤسسات تعلیمات مسلکی

دخپرېدونېټه: د ۱۳۹۷هـ.ش کال دکب دمیاشتې (۱۱)
پرله پسې نمبر: (۱۳۳۱)

تاریخ نشر: (۱۱) حوت سال ۱۳۹۷ هـ.ش
نمبر مسلسل: (۱۳۳۱)

د امتیـــاز خاوند: د عدلیـــې وزارت

مسئول چلوونکی: قانونمل محمدرحیم "دقیق"

۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷

د دفتر تیلفون: ۰۲۰۲۳۱۴۲۹۸

مرستیـــال: نورعلم ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸

مهتمـــم: محمد جان ۰۷۴۷۶۲۷۹۳۰

وب سایت: www.moj.gov.af

قیمت این شماره (به اساس قرارداد): (۱۵،۱۲) افغانی

تیراژ چاپ: (۳۰۰۰) جلد

تعداد صفحات به شمول پشتی: (۵۴) صفحه

مطبعه: بهیـــر

آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات و ارتباط عامه، سرک(۱۵)وزیرمحمداکبرخان(شیرپور)، کابل

## د مسلکي محاسبينو د قانون د توشېح په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس فرمان

ګڼه: (۳۳۹)

نېټه: ۱۳۹۷/۹/۱۲

**لومړۍ ماده:**

د اساسي قانون د څلورشپېتمې مادې د ۱۶ جزء د حکم له مخې، د مسلکي محاسبينو قانون چې د ملي شوري د دواړو مجلسونو د ګډ هيئت د ۱۳۹۷/۴/۳۰ نېټې د (۳۱۷) ګڼې فيصلې پر بنسټ په (۶) فصلونو او (۲۱) مادو په دننه کې فيصله شوی دی، توشېح کوم.

**دوه يمه ماده:**

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذاو د ملي شوري د دواړو مجلسونو د ګډ هيئت له فيصلې او د نومـوړي

## فرمان رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشيح قانون محاسبين مسلکی

شماره: (۳۳۹)

تاريخ: ۱۳۹۷/۹/۱۲

**مادۀ اول:**

بـه تأسـی از حکـم جـزء ۱۶ مادۀ شصت وچهارم قانون اساسـی، قـانون محاسـبين مسـلکی را کـه به اسـاس فيصـلۀ شـماره (۳۱۷) مـؤرخ ۱۳۹۷/۴/۳۰ هيئـت مخـتلط مجلسـين شـورای ملـی بـه داخـل (۶) فصـل و (۲۱) مـاده فيصـله گرديـده اسـت، توشيح می دارم.

**مادۀ دوم:**

ايـن فرمـان از تـاريخ توشـيح نافـذ و همـراه بـا فيصـلۀ هيئت مخـتلط مجلسـين شـورای

قانون له متن سره یو ځای دې په رسمي جریده کې خپور شي.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس**

ملـــی و مـــتن قـــانون متـــذکره، در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

**دافغانستان اسلامي جمهوري دولت**

**ملي شوري**

**د مسلکي محاسبينو د قانون**

**په هکله د ملي شوري**

**د مجلسينو د ګډ هیئت**

**پرېکړه**

**ګڼه: (۳۱۷)**

**نېټه: ۱۳۹۷/۴/۳۰**

**د افغانستان د اساسي قانون د سلمې مادې له درج شوي حکم سره سم، د ملي شوري د دواړو جرګو له اوو، اوو تنو غړيو په ترکيب ګډ هیئت د مسلکي محاسبينو د قانون په اړه د جمهور رئيس د ۱۳۹۵/۱۲/۱۴ نېټې (۲۵۱) ګڼه تقنيني فرمان په هکله د ۳۰ /۴ /۱۳۹۷ نېټې د شنبې ورځې په غونډه کې پرېکړه وکړه.**

**د ګډ هیئت رئيس**

**صديق احمد عثماني**

**د ګډ هیئت مرستيال**

**نجيبه حسيني**

**دولت جمهوری اسلامی افغانستان**

**شورای ملی**

**فیصله**

**هیئت مختلط مجلسین شورای ملی**

**در مورد قانون محاسبین**

**مسلکی**

**شماره: (۳۱۷)**

**تاریخ: ۱۳۹۷/۴/۳۰**

**به تأسی از حکم مادۀ صدم قانون اساسی افغانستان، هیئت مختلط مجلسین شورای ملی به ترکیب هفت، هفت تن از اعضای هر جرگه فرمان تقنینی شماره (۲۵۱) مؤرخ ۱۳۹۵/۱۲/۱۴ رئیس جمهور در رابطه به قانون محاسبین مسلکی را در جلسۀ روز شنبه مؤرخ ۳۰ /۴ /۱۳۹۷ فیصله نمود.**

**رئیس هیئت مختلط**

**صدیق احمد عثمانی**

**معاون هیئت مختلط**

**نجیبه حسینی**

## فهرست مندرجات

## قانون محاسبین مسلکی

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ اول: | مبنی | ۶ |
| مادهٔ دوم: | اهداف | ۶ |
| مادهٔ سوم: | اصطلاحات | ۶ |
| مادهٔ چهارم: | مرجع تطبیق | ۹ |
| مادهٔ پنجم: | محدودیت | ۱۰ |


### فصل دوم

### بورد محاسبین مسلکی و وظایف آن


| | | |
|---|---|---|
| مادهٔ ششم: | ایجاد بورد محاسبین مسلکی | ۱۰ |
| مادهٔ هفتم: | شرایط عضویت در بورد | ۱۱ |
| مادهٔ هشتم: | وظایف و صلاحیت های بورد | ۱۲ |


### فصل سوم

### اعطای جواز نامهٔ محاسبه


| | | |
|---|---|---|
| مادهٔ نهم: | شرایط اعطای جوازنامهٔ محاسبه | ۱۴ |
| مادهٔ دهم: | اعطای جوازنامهٔ محاسبه | ۱۷ |
| مادهٔ یازدهم: | میعاد اعتبار جوازنامهٔ محاسبه و تمدید آن | ۱۸ |
| مادهٔ دوازدهم: | حل منازعه | ۱۸ |

## فصل چهارم

## حقوق و مکلفیت های محاسبین مسلکی

مادۀ سیزدهم: رعایت قانون، مقرره و معیارهای بین المللی............. ۱۹
مادۀ چهاردهم: حفظ محرمیت اسناد و معلومات........................ ۲۰

## فصل پنجم

## تدابیر انضباطی

مادۀ پانزدهم: مراجعه متضرر به بورد.................................... ۲۱
مادۀ شانزدهم: اتخاذ تدابیر............................................... ۲۱

## فصل ششم

## احکام نهایی

مادۀ هفدهم: ادای مکلفیت مالیاتی....................................... ۲۲
مادۀ هجدهم: تحویل عواید حاصله به بانک............................. ۲۳
مادۀ نزدهم: انجام خدمات محاسبه قبل از انفاذ این قانون............. ۲۳
مادۀ بیستم: وضع مقرره ها و طرزالعمل ها............................. ۲۳
مادۀ بیست ویکم: تاریخ انفاذ.............................................. ۲۴

## د مسلکي محاسبينو قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبنی**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د لسمې مادې د حکم په رڼا کې وضع شوی دی.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

ددې قانون موخې عبارت دي له:

۱- مسلکي محاسب ته د محاسبې د جوازليک په صادرولو پورې د اړوند چارو تنظيم.

۲- د معياري محاسبې د خدمتونو د تنظيم لپاره د رڼې زمينې برابرول.

۳- د مالي محاسباتو د اعتبار ورکونې معياري کول.

**اصطلاحگانې**

**درېيمه ماده:**

په دې قانون کې راتلونکې

## قانون محاسبين مسلکی

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این قانون در روشنی حکم مادۀ دهم قانون اساسی افغانستان، وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

اهداف این قانون عبارت اند از:

۱- تنظیم امور مربوط به صدور جوازنامۀ محاسبه به محاسب مسلکی.

۲- فراهم نمودن زمینه شفاف برای تنظیم خدمات محاسبۀ معیاری.

۳- معیاری ساختن اعتباردهی محاسبات مالی.

**اصطلاحات**

**مادۀ سوم:**

اصطلاحات آتی در این قانون مفاهیم

اصطلاحگانې لاندې مفاهیم افاده کوي:

۱- محاسبه: په مسلکي تګلارو سره د محاسبې د خدمتونو (اظهارلیک او بېلانس) ثبت، راټولول، طبقه بندي، تحلیل، تجزیه، توحید او د ډاډ ترلاسه کول.

۲- د محاسبې خدمتونه: د قرارداد پربنسټ د محاسبې متقاضي ته د مسلکي محاسب په واسطه ددې مادې د ۱ جزء د محاسبې خدمتونو وړاندې کول.

۳- مسلکي محاسب: هغه شخص دی چې ددې قانون له حکمونو سره سم یې د محاسبې جوازلیک ترلاسه کړی وي.

۴- د محاسبې جوازلیک: هغه سند دی چې د مالیې وزارت د مسلکي محاسبینو د ادارې د بورد له لوري ددې قانون له حکمونو سره سم، محاسب ته ورکول کېږي.

۵- د محاسبې متقاضي: هغه شخص دی چې خپله یا د هغه قانوني استازی له مسلکي محاسب څخه د محاسبې خدمتونو غوښتنه کوي.

ذیل را افاده می نماید:

۱- محاسبه: ثبت، جمع آوری، طبقه بندی، تحلیل، تجزیه، توحید و حصول اطمینان از خدمات محاسبه ( اظهارنامه و بیلانس) است با روش های مسلکی.

۲- خدمات محاسبه: ارایه خدمات جزء ۱ این ماده توسط محاسب مسلکی برای متقاضی بر اساس قرارداد.

۳- محاسب مسلکی: شخصی است که جوازنامۀ محاسبه را مطابق احکام این قانون بدست آورده باشد.

۴- جوازنامۀ محاسبه: سندی است که از طرف بورد ادارۀ محاسبین مسلکی وزارت مالیه، مطابق احکام این قانون به محاسب اعطاء می گردد.

۵- متقاضی محاسبه: شخصی است که خود یا نمایندۀ قانونی وی، خدمات محاسبه را از محاسب مسلکی مطالبه می نماید.

۶- کورنی حقیقي شخص: هغه شخص دی چې د افغانستان د تابعیت لرونکی وي.

۷- کورني حکمي شخص: هغه شخص دی چې د مؤسسې، شرکت، انحصاري مالکیت، محدودالمسؤولیت، لنډ مهاله مشارکت، لنډ مهاله پانګې اچونې او اتحادیې یا بلې هر ډول انتفاعي مؤسسې په شکل چې د قوانینو له حکمونو سره سم تأسیس شوی وي.

۸- بهرنی حقیقي شخص: هغه شخص دی چې د افغانستان تابعیت ونه ولري.

۹- بهرنی حکمي شخص: هغه شخص دی چې د افغانستان تابعیت ونه لري او د مؤسسې، شرکت، انحصاري مالکیت، محدودالمسؤولیت، لنډ مهاله مشارکت، لنډ مهاله پانګې اچونې او اتحادیې یا هر ډول مؤسسې په شکل چې د هماغه هېواد د قوانینو له حکمونو سره تأسیس شوې وي.

۶- شخص حقیقی داخلی: شخصی است که دارای تابعیت افغانستان باشد.

۷- شخص حکمی داخلی: شخص است که به شکل مؤسسه، شرکت، مالکیت انحصاری، محدودالمسؤولیت، مشارکت مؤقت، سرمایه گذاری مؤقت و اتحادیه یا هر نوع مؤسسه دیگر انتفاعی که مطابق احکام قوانین تأسیس گردیده باشد.

۸- شخص حقیقی خارجی: شخص است که تابعیت افغانستان را نداشته باشد.

۹- شخص حکمی خارجی: شخص است که تابعیت افغانستان را نداشته باشد و به شکل مؤسسه، شرکت، مالکیت انحصاری، محدودالمسؤولیت، مشارکت مؤقت، سرمایه گذاری مؤقت و اتحادیه یا هر نوع مؤسسه که مطابق احکام قوانین همان کشور دولتی تأسیس گردیده باشد.

۱۰- بین المللي معیارونه: د بورد په واسطه صادر شوي کوچنیو او متوسطو شرکتونو لپاره د مالي رپوټ ورکونې بین المللي معیارونه، بین المللي محاسبوی معیارونه، د پلټنې او بررسی بین المللي معیارونه، د بورد له خوا له صادر شوي کیفیت څخه د څارنې بین المللي معیار، د بورد له خوا صادر شوي له کیفیت د مسلکي محاسبینو د سلوک له ډول څخه د پلټنې او د ډاډ ترلاسه کولو بین المللي معیارونه، د تعیيناتو د بورد له خوا صادر شوي د دولتي ادارو لپاره او د محاسبې بین المللي معیارونه د دولتي ادارو لپاره د محاسبې بین المللي معیارونه دي.

## د تطبیق مرجع

**څلورمه ماده:**

(۱) د مالیې وزارت ددې قانون د حکمونو د تطبیق مرجع ده.

(۲) د افغانستان د مسلکي محاسبینو د اداري ریاست د مالیې وزارت د تشکیل

۱۰- معیار های بین المللی: معیارهای بین المللی گزارش دهی مالی برای شرکت های کوچک و متوسط صادر شده توسط بورد، معیارهای محاسبوی بین المللی، معیار های بین المللی تفتیش و بررسی، معیار بین المللی نظارت از کیفیت صادر شده توسط بورد، معیارات بین المللی تفتیش و حصول اطمینان از کیفیت و طرز سلوک محاسبین مسلکی صادر شده توسط بورد، معیار های بین المللی طرز سلوک ومعیارهای بین المللی محاسبه برای ادارات دولتی صادر شده توسط بورد تعیینات، معیارهای بین المللی محاسبه برای ادارات دولتی می باشد.

## مرجع تطبیق

**مادهٔ چهارم:**

(۱) وزارت مالیه، مرجع تطبیق احکام این قانون می باشد.

(۲ ) ریاست ادارهٔ محاسبین مسلکی افغانستان جزء تشکیل وزارت مالیه

برخه ده او په خپلو اجراآتو کې د قانون د حکمونه د عمل ملاک گرځوي.

محدودیت

پنځمه ماده:

هېڅ شخص نشي کولای، د محاسبې د جواز له لرلو پرته، د دولتي، نا دولتي ادارو، تصدیو، دولتي او نا دولتي مختلطو شرکتونو د محاسبې خدمتونه تر قرارداد لاندې ترسره کړي.

## دوه یم فصل

## د مسلکي محاسبینو بورد او د هغه دندې

د مسلکي محاسبینو د بورد رامنځته کول

شپږمه ماده:

(۱) په دې قانون کې د درج شوو موخو د تحقق په منظور، د مسلکي محاسبینو د ادارې بورد په لاندې ترکیب سره رامنځته کېږي:

۱- د مالیې وزارت د مسلکي محاسبینو د ادارې د پرمختیا اجرائیوي

بوده و دراجراآت خویش، احکام قانون را ملاک عمل قرار می دهد.

محدودیت

مادۀ پنجم:

هیچ شخص نمی تواند، بدون داشتن جوازنامۀ محاسبه، خدمات محاسبه ادارات دولتی، غیردولتی، تصدی ها، شرکت های مختلط دولتی و غیر دولتی را تحت قرارداد انجام دهد.

## فصل دوم

## بورد محاسبین مسلکی و وظایف آن

ایجاد بورد محاسبین مسلکی

مادۀ ششم:

(۱) به منظور تحقق اهداف مندرج این قانون، بورد ادارۀ محاسبین مسلکی به ترکیب ذیل ایجاد می گردد:

۱- رئیس اجرائیوی انکشاف ادارۀ محاسبین مسلکی وزارت مالیه،

رئیس، د رئیس په توګه.
۲- د سوداګرۍ او صنایعو وزارت استازی، د غړي په توګه.
۳- د لوړو زده کړو وزارت استازی، د غړي په توګه.
۴- د اقتصاد وزارت استازی، د غړي په توګه.
۵- د دافغانستان بانک استازی، د غړي په توګه.
٦- د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو د خونې استازی، د غړي په توګه.
۷- د مالي محاسبینو ټاکل شوی استازی د غړی په توګه.
(۲) د مسلکي محاسبینو د ادارې د بورد سکرتریت د مالیې وزارت پر غاړه دی.
(۳) د مسلکي محاسبینو د ادارې بورد په دې قانون کې د بورد په نامه یادیږي.

## په بورد کې د غړیتوب شرطونه

اوومه ماده:
(۱) هغه شخص د بورد د غړي په توګه ټاکل کېدای شي چې د لاندې شرطونو

به حیث رئیس.
۲- نمایندۀ وزارت صنعت و تجارت، به حیث عضو.
۳- نمایندۀ وزارت تحصیلات عالی، به حیث عضو .
۴- نمایندۀ وزارت اقتصاد، به حیث عضو.
۵- نمایندۀ دافغانستان بانک، به حیث عضو.
٦- نمایندۀ اتاق تجارت افغانستان، به حیث عضو.
۷- نمایندۀ منتخب محاسبین مالی، به حیث عضو.
(۲) سکرتریت بورد ادارۀ محاسبین مسلکی به عهده وزارت مالیه می باشد.
(۳) بورد ادارۀ محاسبین مسلکی دراین قانون بنام بورد یاد می گردد.

## شرایط عضویت در بورد

مادۀ هفتم:
(۱) شخصی به حیث عضو بورد تعیین شده می تواند که واجد شرایط

لرونکی وي:

۱- د افغانستان د تابعیت درلودل.

۲- د اقتصاد یا حسابدارۍ له پوهنځي څخه لږ تر لږه د لیسانس سند درلودل.

۳- د محاسبې د خدمتونو په برخه کې لږ تر لږه د (۵) کلنې کاري تجربې درلودل.

۴- د نیک شهرت درلودل.

(۲) ددې قانون په شپږمه ماده کې درج شوي وزارتونه او ادارې، هغه شخص د بورد د غړي په توګه ټاکي او ورپیژني چې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو شرطونو لرونکی وي.

(۳) د بورد د غونډو د جوړېدو ډول او په هغو د اړوندې نورې چارې، په ځانګړې کړنلاره کې تنظیمېږي.

## د بورد دندې او واکونه

اتمه ماده:

بورد، د لاندې څارنیزو او تنظیمي دندو او واکونو لرونکی

ذیل باشد:

۱- داشتن تابعیت افغانستان.

۲- داشتن حداقل سند لیسانس از پوهنځی اقتصاد یا حسابداری.

۳- داشتن حداقل (۵) سال تجربهٔ کاری درعرصهٔ خدمات محاسبه.

۴- داشتن شهرت نیک.

(۲) وزارت ها و ادارات مندرج مادهٔ ششم این قانون، شخصی را به حیث عضو بورد تعیین ومعرفی می نمایند که واجد شرایط مندرج فقرهٔ (۱) این ماده باشد.

(۳) طرز تدویر جلسات بورد و سایر امور مربوط به آن، در طرزالعمل جداگانه تنظیم می گردد.

## وظایف و صلاحیت ها ی بورد

مادهٔ هشتم:

بورد، دارای وظایف و صلاحیت های نظارتی و تنظیمی ذیل

دی:

۱- د محاسبې د جوازليک د غوښتنې د فورم ترتيب.

۲- له بين المللي معيارونو سره سم، د محاسبې د جوازليک له غوښتونکي څخه د آزموينې تنظيم او اخيستل.

۳- د شرايطو لرونکو اشخاصو ته د محاسبې د جوازليک ورکول.

۴- ددې قانون او اړوندو مقررو او کړنلارو له حکمونو سره د محاسبينو په واسطه د وړاندې شوو محاسبوي خدمتونو له مطابقت څخه د ډاډ ترلاسه کول.

۵- له بين المللي معيارونو سره د محاسبې د خدمتونو له مطابقت څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره، د بررسۍ د سيستم رامنځته کول او ساتل.

۶- د محاسبينو د بين المللي فدراسيون له اړتياوو سره سم د مسلکي محاسبينو د ادارې د فعاليتونو تنظيم او څارنه.

می باشد:

۱- ترتيب فورم در خواست جوازنامۀ محاسبه.

۲- تنظيم و اخذ امتحان از متقاضی جوازنامۀ محاسبه مطابق معيار های بين المللی.

۳- اعطای جوازنامۀ محاسبه به اشخاص واجد شرايط.

۴- حصول اطمينان از مطابقت خدمات محاسبوی ارائه شده توسط محاسبين با احکام اين قانون و مقرره ها و طرزالعمل های مربوط.

۵- ايجاد و حفظ سيستم بررسی، جهت اطمينان از مطابقت خدمات محاسبه با معيارهای بين المللی.

۶- تنظيم ونظارت از فعاليت های ادارۀ محاسبين مسلکی طبق نيازمندی های فدراسيون بين المللی محاسبين.

## دریيم فصل

## د محاسبې د جوازليک ورکړه

**د محاسبې د جوازليک د ورکړې شرطونه**

**نهمه ماده:**

(۱) کورنی او بهرنی حقيقي شخص په هغه صورت کې کولای شي، د محاسبي جوازليک ترلاسه کړي چې د لاندې شرطونو لرونکی وي:

۱- د مسلکي محاسبې د چارو اړوند تحصيلي سند درلودل.

۲- په بريالي ډول د اختصاصي آزموينې تېرول.

۳- د محاسبې په خدمتونو کې لږ تر لږه د درې کلنې کاري تجربې درلودل.

۴- د محاسبې په چارو کې د مستمرو مسلکي زده کړو سند درلودل.

۵- د جنحه او د محاسبې يا اداري فساد په چارو کې د جرم د ارتکاب په علت د محکمې له خوا نه محکوميت.

۶- د مقررې له حکمونو سره سم د مسلکي ضمانت يا نورو اجرائيوي

## فصل سوم

## اعطای جوازنامۀ محاسبه

**شرایط اعطای جوازنامۀ محاسبه**

**مادۀ نهم:**

(۱) شخص حقیقی داخلی و خارجی در صورتی می تواند، جوازنامۀ محاسبه را بدست آورد که واجد شرایط ذیل باشد:

۱- داشتن سند تحصیلی مربوط به امورمحاسبه مسلکی.

۲- سپری نمودن موفقانۀ امتحان اختصاصی.

۳- داشتن حداقل تجربۀ کاری سه سال در خدمات محاسبه.

۴- داشتن سند تعلیمات مسلکی مستمر در امور محاسبه.

۵- عدم محکومیت از طرف محکمه به علت ارتکاب جرم جنحه و در امور محاسبه یا فساد اداری یا جنایت.

۶- ارایۀ ضمانت مسلکی یا سایر ضمانت های اجرائیوی

ضمانتونو وړاندې کول.

(۲) کورنی حکمي شخص په هغه صورت کې کولای شي د محاسبې جوازلیک ترلاسه کړي چې د هغه رئیس، مرستیال او یاشریکان ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو شرطونو د درلودلو سربېره، لاندې شرطونه هم ولري:

۱- په افغانستان کې د ثبت شوي دفتر درلودل.

۲- د سوداګریز جواز درلودل.

۳- د افغان کارکوونکو د استخدام په اړه ژمنه.

۴- د افغان کارکوونکو لپاره د روزنیزو او مسلکي ودې د برنامو د جوړولو په اړه ژمنه.

۵- د هغه هېواد په هکله د معلوماتو وړاندې کول چې له هغه څخه يې د فعالیت جوازلیک اخیستی او فعالیت يې کړی وي.

۶- د بل هېواد په واسطه د اړوند جواز د رد، تعلیق یا لغو په صورت کې د معلوماتو وړاندې کول.

مطابق احکام مقرره.

(۲) شخص حکمی داخلی در صورتی می تواند جواز نامه محاسبه را بدست آورد که رئیس، معاون و شرکای آن علاوه بر داشتن شرایط مندرج فقرۀ (۱) این ماده، شرایط ذیل را نیز داشته باشد:

۱- داشتن دفتر ثبت شده در افغانستان.

۲- داشتن جواز تجارتی.

۳- تعهد مبنی بر استخدام کارکنان افغان.

۴- تعهد مبنی بر تدویر برنامه های آموزشی و انکشاف مسلکی برای کارکنان افغان.

۵- ارایۀ معلومات در مورد کشورکه جواز فعالیت را از آن اخذ و فعالیت نموده باشد.

۶- ارایۀ معلومات در صورت رد، تعلیق یا لغو جوازمربوط توسط کشوردیگر.

(۳) بهرنی حکمي یا حقیقي شخص په هغه صورت کې کولای شي د محاسبې جوازلیک ترلاسه کړي چې ددې مادې په (۱ او ۲) فقره کــې د درج شــوو شرایطو پر درلودلو سربېره، د لانــدې شرایطو لرونکی وي:

۱- له خپل متبوع هېواد څخه د اړوند شخصیت د رامنځ ته کولو سند هــم ولري.

۲- د هغه هېواد په هکله د معلومــاتو وړاندې کــول چــې له هغه څخه يې د فعالیت جواز تــرلاســه کــړی او فعالیت کړی وي.

۳- د بل هېواد له لوري د اړوند جواز د رد، تعلیق یا لغــو کــولو په صورت کــې د معلومـــاتو وړانــدې کــول.

۴- ددې مادې د (۱) فقرې له شرایطو سره سم لږ تر لږه د یوه افغان شریک درلودل.

(۴) د اجراء وړ فیســونه او د هغــو بدلونونه د بورد لخــوا وړانــدیز او د مالیې وزیر په واسطه منظورېږي.

(۵) د محاسبې د جوازلیک د ورکولو

(۳) شخــص حکــمی یــا حقیقــی خارجی در صورتی می تواند جواز نامۀ محاسبه را بدست آورد کــه عــلاوه برداشتن شرایط مندرج فقــره هــای (۱و۲) ایــــن مــــاده، حــــاوی شرایط ذیل می باشد:

۱- سند ایجاد شخصــیت مربــوط را از کشور متبوع خود نیــز داشــته باشد.

۲- ارایــۀ معلومــــات در مــــورد کشـــوریکه جـــواز فعالیـــت را از آن اخـــذ وفعالیـــت نمـــوده باشد.

۳- ارایۀ معلومـــات درصـــورت رد، تعلیق یا لغو جـــواز مربـــوط توســط کشور دیگر.

۴- داشتن حد اقل یک شریک افغان طبـــق شـــرایط فقـــرۀ (۱) ایـــن ماده.

(۴) فیس های قابل اجراء و تغییرات آن از طرف بورد پیشـــنهاد و توســـط وزیر مالیه منظور می گردد.

(۵) طرزاخذ امتحان و ســایر امــور

د آزموينې د اخيستلو ډول او اړوندې نورې چارې، په جلا مقرره کې تنظيمېږي.

## د محاسبې د جوازليک ورکول

لسمه ماده:

(۱) د محاسبې د جوازليک متقاضي، له هغې فورمې څخه په ګټې اخيستنې سره چې د بورد په واسطه ترتيبېږي، د محاسبې د جوازليک غوښتنليک بورد ته وړاندې کوي.

(۲) بورد، غوښتنليک له ترلاسه کولو وروسته بررسي کوي، د هغه د تأييد يا رد په هکله تصميم نيسي.

(۳) که چېرې غوښتنليک تأييد شي، بورد د بيې په بدل کې د محاسبې جوازليک د محاسبې د جوازليک متقاضي ته ورکوي او په هغه صورت کې چې غوښتنليک رد شي، له موضوع څخه د مؤجه دلايلو په وړاندې کولو سره، په ليکلي ډول هغه ته خبر ورکوي.

مربوط به اعطای جوازنامهٔ محاسبه، در مقررهٔ جداگانه تنظيم می گردد.

## اعطای جوازنامهٔ محاسبه

مادهٔ دهم:

(۱) متقاضی جوازنامهٔ محاسبه، با استفاده از فورمی که توسط بورد ترتیب می شود، درخواست جوازنامهٔ محاسبه را به بورد ارایه می نماید.

(۲) بورد، درخواست را بعد از در یافت بررسی نموده، در مورد تأیید یا رد آن تصمیم اتخاذ می نماید.

(۳) هرگاه درخواست تأیید گردد، بورد جوازنامهٔ محاسبه را در بدل قیمت به متقاضی جوازنامهٔ محاسبه اعطاء می نماید و درصورتی که درخواست رد شود، موضوع را طور کتبی با ارایهٔ دلایل مؤجه به وی اطلاع می دهد.

## د محاسبې د جوازلیک د اعتبار میعاد او د هغه تمدید

**یوولسمه ماده:**

(۱) د جوازلیک د اعتبار میعاد د هغه د ثبت له نېټې څخه یو کال دی او د نورو دورو لپاره د تمدید وړ دی.

(۲) بورد، جوازلیک په هغه صورت کې تمدید وي چې لرونکی یې ددې قانون، مقررې، طرزالعملونو او اړونده لایحو کې درج شوي مکلفیتونه سرته رسولي وي.

(۳) په دې قانون کې د درج شوي جوازلیک لرونکي مکلف دي، د جوازلیک له انقضاء څخه دوه میاشتې مخکې د تمدید غوښتنلیک بورد ته وړاندې کړي.

## د شخړې حل

**دوولسمه ماده:**

که چېرې د بورد یا د محاسبې د متقاضي او د محاسبې د جوازلیک د لرونکي ترمنځ شخړه پېښه شي، موضوع د افغانستان له قوانینو سره سم

## میعاد اعتبار جوازنامۀ محاسبه و تمدید آن

**مادۀ یازدهم:**

(۱) میعاد اعتبار جوازنامه از تاریخ ثبت آن یک سال بوده و برای دوره های دیگر قابل تمدید می باشد.

(۲) بورد، جوازنامۀ را درصورت تمدید می نماید که دارندگان آن مکلفیت های مندرج این قانون، مقرره، طرزالعمل ها و لوایح مربوط را انجام داده باشد.

(۳) دارندگان جوازنامه مندرج این قانون مکلف اند، دو ماه قبل از انقضای مدت جوازنامه، درخواست تمدید آن را به بورد ارایه نمایند.

## حل منازعه

**مادۀ دوازدهم:**

هرگاه میان بورد یا متقاضی محاسبه با دارندۀ جواز نامۀ محاسبه منازعه بروز نماید، موضوع مطابق قوانین افغانستان

حل او فصل کېږي.

## څلورم فصل

## د مسلکي محاسبینو حقوق او مکلفیتونه

**د قانون، مقررې او بین المللي معیارونو رعایتول**

**دیارلسمه ماده:**

(۱) محاسب مکلف دی، ددې قانون، اړوندې مقررې له حکمونو او د بورد په واسطه له نیول شوو بین المللي معیارونو سره سم، د دولتي او نا دولتي ادارو، اشخاصو او شرکتونو د محاسبې خدمتونه ترسره کړي.

(۲) مسلکي محاسب د محاسبې د خدمتونو له وړاندې کولو او خپلو د اجراآتو څخه د مسلکي محاسبینو د ادارې ریاست او مالیې وزارت ته وړاندې مسؤول او د هغه په دفاع کولو مکلف دی.

حل و فصل می گردد.

## فصل چهارم

## حقوق و مکلفیت های محاسبین مسلکی

**رعایت قانون، مقرره و معیارهای بین المللی**

**مادۀ سیزدهم:**

(۱) محاسب مکلف است، خدمات محاسبۀ ادارات دولتی و غیردولتی، اشخاص و شرکت ها را مطابق احکام این قانون، مقررۀ مربوط و معیارهای بین المللی اتخاذ شده توسط بورد، انجام دهد.

(۲) محاسب مسلکی از ارایه خدمات محاسبه و اجراآت خود نزد ریاست اداره محاسبین مسلکی و وزارت مالیه مسؤول بوده و مکلف به دفاع آن می باشد.

## د سندونو او معلوماتو د محرمیت ساتل

**څوارلسمه ماده:**

(۱) محاسب د محاسبې د متقاضي د وړاندې شوو سندونو او معلوماتو په ساتنه مکلف دی او نشي کولای هغه د بل شخص په لاسرسي کې ورکړي خو د محکمې، د محاسبې د متقاضي، ورثې او یا د هغه د قانوني وکیل په لیکلې اجازې.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو سندونو او معلوماتو کاپي، د محاسبې د خدمتونو د وړاندې کولو له پای ته رسېدو وروسته، د محاسبې متقاضي ته د وړاندې شوي رپوټ په استثناء، له محاسب سره پاتې کېږي. خو دا چې د محاسبې د متقاضي او محاسب ترمنځ په بل ډول سره موافقه صورت موندلې وي.

(۳) محاسب مکلف دی، هغه سندونه چې د محاسبې د متقاضي په واسطه هغه ته سپارل شوي، د خدمتونو

## حفظ محرمیت اسناد و معلومات

**مادۀ چهاردهم:**

(۱) محاسب مکلف به حفظ اسناد و معلومات ارایه شدۀ متقاضی محاسبه بوده و نمی تواند آنرا بدسترس شخص دیگر قراردهد، مگر به اجازۀ کتبی محکمه، متقاضی محاسبه، ورثه ویا وکیل قانونی وی.

(۲) کاپی اسناد و معلومات مندرج فقرۀ (۱) این ماده، بعد ازختم ارایۀ خدمات محاسبه، به استثنای گزارش ارایه شده به متقاضی محاسبه، نزد محاسب باقی می ماند. مگر اینکه توافق میان متقاضی محاسبه و محاسب طور دیگری صورت گرفته باشد.

(۳) محاسب مکلف است، اسنادی که توسط متقاضی محاسبه به وی سپرده شده،

د وړاندې کولو د پای له نېټې څخه لږ تر لږه د (۷) کلونو مودې لپاره، حفظ او وساتي.

## پنځم فصل

## انضباطي تدبيرونه

**بورد ته د زيانمن مراجعه**

**پنځلسمه ماده:**

که چېرې دولتي او نا دولتي ادارې، شخص او شرکت د محاسب له اجراآتو څخه زيانمن شي، کولای شي بورد ته مراجعه وکړي.

**د تدبيرونو نيول**

**شپاړسمه ماده:**

(۱) بورد، ترلاسه شوي شکايتونه بررسي کوي.

(۲) که چېرې محاسب ددې قانون او اړوندو مقررو له حکمونو او د محاسبې د جوازليک له مندرجاتو څخه سرغړونه وکړي، بورد له احوالو سره سم، له لاندې تدبيرونو څخه يو نيسي:

۱- اخطار يا د فعاليت د ساحې محدودول.

حداقل برای مدت (۷) سال ازتاريخ ختم ارايه خدمات، حفظ و نگهداری نمايد.

## فصل پنجم

## تدابير انضباطی

**مراجعه متضرر به بورد**

**مادۀ پانزدهم:**

هرگاه ادارات دولتی و غيردولتی، شخص و شرکت از اجراآت محاسب متضرر گردند، می توانند به بورد مراجعه نمايند.

**اتخاذ تدابير**

**مادۀ شانزدهم:**

(۱) بورد، شکايات واصله را بررسی می نمايد.

(۲) هرگاه محاسب از احکام اين قانون و مقرره های مربوط و مندرجات جوازنامۀ محاسبه، تخلف نمايد، بورد حسب احوال يکی از تدابير ذيل را اتخاذ می نمايد:

۱- اخطار يا محدود ساختن ساحۀ فعاليت.

۲- د جوازلیک تعلیق یا لغو کول.
۳- د جوازلیک د تمدید د غوښتنلیک ردول.
۴- د جرمونو او یا نورو انضباطي تدبیرونو وضع کول.
(۳) که چېرې د مسلکي محاسب سرغړونې ته رسیدګي د بورد له واک څخه لوړه وي، بورد موضوع عدلي او قضايي مراجعو ته د رسیدګۍ په غرض استوي.
(۴) د انضباطي تدابیرو د نیولو او هغو ته د رسیدګۍ د نیولو څرنګوالی، په جلا مقرره کې تنظیمېږي.

## شپږم فصل

## وروستي حکمونه

**د مالیاتي مکلفیت ترسره کول**

**اوولسمه ماده:**

مسلکي محاسب مکلف دی، خپل مالیاتي وجایب د قانون له حکمونو سره سم، ترسره کړي.

۲- تعلیق یا لغو جوازنامه.
۳- رد درخواست تمدید جوازنامه.
۴- وضع جرایم و یا دیگر تدابیر انضباطی.
(۳) هرگاه رسیدگی ازحدود صلاحیت بورد بالاترباشد، بورد موضوع را غرض رسیدگی به مراجع عدلی و قضائی ارجاع می نماید .
(۴) چگونگی اتخاذ تدابیر انضباطی و رسیدگی به آن، در مقررۀ جداگانه تنظیم می گردد.

## فصل ششم

## احکام نهایی

**ادای مکلفیت مالیاتی**

**مادۀ هفدهم:**

محاسب مسلکی مکلف است، وجایب مالیاتی خویش را مطابق احکام قانون اداء نماید.

## بانک ته د ترلاسه شوو عوایدو تحویلول

**اتلسمه ماده:**

بورد مکلف دی، پدې قانون کې درج شوي د جواز بیه او فیسونه ترلاسه او د دولت د وارداتو په حساب بانک ته تحویل کړي.

## د دغه قانون له انفاذ څخه مخکې د محاسبې د خدمتونو ترسره کول

**نولسمه ماده:**

هغه اشخاص چې ددې قانون له نافذېدو څخه مخکې د دولتي، نا دولتي ادارو، تصدیو، د دولتي نا دولتي مختلطو شرکتونو د محاسبې خدمتونه ترسره کوي، مکلف دي، ددې قانون له حکمونو سره سم، د یوه کال مودې په ترڅ کې د محاسبې جوازلیک ترلاسه کړي.

## د مقررو او کړنلارو وضع کول

**شلمه ماده:**

د مالیې وزارت کولای شي، ددې قانون د حکمونو د ښه تطبیق په منظور، مقرره

## تحویل عواید حاصله به بانک

**مادهٔ هجدهم:**

بورد مکلف است، قیمت جوازو فیس های مندرج این قانون را حاصل و به حساب واردات دولت تحویل بانک نماید.

## انجام خدمات محاسبه قبل از انفاذ این قانون

**مادهٔ نزدهم:**

اشخاصی که قبل از انفاذ این قانون خدمات محاسبه ادارات دولتی، غیردولتی، تصدی ها، شرکت های مختلط دولتی و غیر دولتی را انجام می دهند، مکلف اند، در خلال مدت یک سال جواز نامهٔ محاسبه را مطابق احکام این قانون بدست آورند.

## وضع مقرره ها و طرزالعمل ها

**مادهٔ بیستم:**

وزارت مالیه می تواند، به منظور تطبیق بهتر احکام این قانون،

وړانديز او هغه کـړنلاره او لايحــې چې ددې قانون او نـورو قوانينـو د حکمونو مغايرې نه وي، وضع کړي.

**د انفاذ نېټه**

**يوويشتمه ماده:**

دغه قانون په رسمي جريـده کـې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

مقــرره را پيشـنهاد و طرزالعمـل و لوايح را که مغاير احکام اين قانون و ساير قوانين نباشد، وضع نمايد.

**تاريخ انفاذ**

**مادۀ بيست ويکم:**

اين قانون از تـاريخ نشـر در جريدۀ رسمی نافذ می گردد.

**دګمرکونو دکادر د تنظیم دمقررې**
**دانفاذ په هکله دافغانستان**
**اسلامي جمهوریت د رئیس**
**حکم**

ګڼه: (۲۵۱۵)
نېټه: ۲۵/ ۱۰/ ۱۳۹۷

**لومړۍ ماده:**

د ګمرکونو د کادر د تنظیم مقرره چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې د ۶/ ۱۰/ ۱۳۹۷ نېټې (۱۸) ګڼه مصوبې پر بنسټ د (۶) فصلونو او (۲۲) مادو په دننه کې تصویب شوې ده، منظوروم.

**دوه یمه ماده:**

دغه حکم دې د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې له مصوبې او د نوموړې مقررې له متن سره یو ځای دې په رسمي جریده کې خپور شي.

**محمد اشرف غني**
**د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس**

**حکم**
**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**
**در مورد انفاذ مقررهٔ تنظیم کادر**
**گمرکات**

شماره: (۲۵۱۵)
تاریخ: ۱۳۹۷/۱۰/۲۵

**مادهٔ اول:**

مقررهٔ تنظیم کادر گمرکات را که به اساس مصوبهٔ شماره (۱۸) مؤرخ ۱۳۹۷/۱۰/۶ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۶) فصل و (۲۲) ماده تصویب گردیده است، منظور می دارم.

**مادهٔ دوم:**

این حکم همراه با مصوبهٔ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان و متن مقررهٔ مذکور در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

**محمد اشرف غنی**
**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

## دګمرکونو دکادر د تنظیم دمقررې د طرحې په هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې مصوبه

ګڼه: (۱۸)

نېټه: ٦/ ١٠/ ١٣٩٧

د افغانستان د اسلامي جمهوریت کابینې، د ګمرکونو د کادر د تنظیم مقرره د ٦/ ١٠/ ١٣٩٧ نېټې (١٨) ګڼه په خپله غونډه کې د (٦) فصلونو او (٢٢) مادو په دننه کې تصویب کړه.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس**

## مصوبهٔ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان در مورد طرح مقررهٔ تنظیم کادر گمرکات

شماره: (۱۸)

تاریخ: ۱۳۹۷/۱۰/٦

کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان، مقررهٔ تنظیم کادر گمرکات را در جلسهٔ شماره (۱۸) مؤرخ ۱۳۹۷/۱۰/٦ خویش به داخل (٦) فصل و (۲۲) ماده مورد تصویب قرار داد.

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

# فهرست مندرجات

## مقررۀ تنظیم کادر گمرکات

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | مبنی | ۲۹ |
| مادۀ دوم: | اهداف | ۲۹ |
| مادۀ سوم: | اصطلاحات | ۳۰ |
| مادۀ چهارم: | ساحۀ تطبیق | ۳۱ |
| مادۀ پنجم: | مرجع تطبیق | ۳۱ |


### فصل دوم

### استخدام


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ ششم: | کادر گمرکات | ۳۲ |
| مادۀ هفتم: | استخدام در کادر گمرکات | ۳۲ |
| مادۀ هشتم: | شرایط خاص استخدام | ۳۳ |
| مادۀ نهم: | امتحان استخدام | ۳۳ |
| مادۀ دهم: | امتحان پولیگراف | ۳۴ |


### فصل سوم

### شمولیت در اکادمی ملی گمرکات


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ یازدهم: | معرفی به اکادمی | ۳۵ |
| مادۀ دوازدهم: | دورۀ آموزشی | ۳۶ |

## فصل چهارم

## امور ذاتی کادر گمرکات


مادۀ سیزدهم: ترفیع.......................................................۳۷

مادۀ چهاردهم: تبدیلی دورانی.......................................۳۸


## فصل پنجم

## امتیازات و مکلفیت ها


مادۀ پانزدهم: امتیازات.................................................۴۰

مادۀ شانزدهم: مکلفیت.................................................۴۱


## فصل ششم

## احکام نهایی


مادۀ هفدهم: معرفی مامورین به بست های مربوط....................۴۲

مادۀ هجدهم: سوگند.....................................................۴۲

مادۀ نزدهم: نظارت از روند استخدام..................................۴۳

مادۀ بیستم: وضع طرزالعمل ها.......................................۴۴

مادۀ بیست و یکم: تطبیق طرزالعمل تعیینات و رسیدگی به شکایات..........۴۴

مادۀ بیست و دوم: انفاذ.................................................۴۴

# د ګمرکونو د کادر د تنظیم مقرره

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه مقرره د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون د نهمې مادې د (۱۲) فقرې د حکم له مخې، وضع شوې ده.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

ددې مقررې موخې عبارت دي له:

۱- د مسلکي معیارونو پر بنسټ د ګمرکونو د کادر رامنځته کول.

۲- د ګمرکونو د کادر د دندو د اغېزمنتوب او ګټور توب تأمین.

۳- د ګمرکونو د کادر د امتیازونو تنظیم.

۴- د ګمرکونو په کادر کې د استخدام د روڼوالي تأمین.

# مقررۀ تنظیم کادر گمرکات

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این مقرره به تأسی ازحکم فقرۀ (۱۲) مادۀ نهم قانون کارکنان خدمات ملکی، وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

اهداف این مقرره عبارت اند از:

۱- ایجاد کادرگمرکات به اساس معیارهای مسلکی.

۲- تأمین مؤثریت ومثمریت وظایف کادرگمرکات.

۳- تنظیم امتیازات کادر گمرکات.

۴- تأمین شفافیت استخدام در کادرگمرکات.

## اصطلاحګاني

**درېیمه ماده:**

په دې مقرره کې راتلونکې اصطلاحګانې لاندې مفاهیم افاده کوي:

۱- د ګمرکونو کادر: د ګمرکونو د ادارې د ملکي خدمتونو د مسلکي مامورینو مجموعه ده چې ګمرکي خدمتونه ترسره کوي.

۲- نوماند: هغه شخص دی چې عمومي ازموینه او مصاحبه یې په بریالیتوب سره تېره کړې وي او د تخصصي زده کړو د کولو لپاره د ګمرکونو ملي اکاډمۍ ته ورپېژندل کېږي.

۳- عمومي ازموینه: هغه لومړنۍ ازموینه ده چې د شارټ لست له پړاو څخه وروسته د (ج او د) ردیفونو د شرایطو لرونکو نوماندانو د تشخیص لپاره په لیکلي ډول اخیستل کېږي.

۴- مصاحبه: د هغو نوماندانو ارزونه ده چې دګمرکونو ملي اکاډمۍ ته د شرطونو لرونکو نوماندانو د شمولیت

## اصطلاحات

**مادۀ سوم:**

اصطلاحات آتی دراین مقرره مفاهیم ذیل را افاده می نماید:

۱- کادرگمرکات: مجموعۀ ازمامورین مسلکی خدمات ملکی ادارۀ گمرکات است که خدمات گمرکی را انجام می دهند.

۲- کاندیدا: شخصی است که امتحان عمومی ومصاحبه را مؤفقانه سپری نموده و جهت فراگیری آموزش تخصصی به اکادمی ملی گمرکات معرفی می شود.

۳- امتحان عمومی: امتحان ابتدایی است که بعد از مرحلۀ شارت لست جهت تشخیص کاندیدان واجد شرایط ردیف های (ج ود) طورتحریری اخذ می گردد.

۴- مصاحبه: ارزیابی کاندیدان است که بعد ازسپری نمودن مؤفقانه امتحان عمومی جهت شمولیت

لپاره، په بریالیتوب سره د عمومي ازموینې له تېرولو څخه وروسته صورت مومي.

۵- وروستۍ ازموینه : هغه تحریري ازموینه ده چې د ګمرکونو له ملي اکاډمۍ څخه له فراغت وروسته له نوماند څخه اخیستل کېږي او پر بنسټ یې نوماند د ګمرکونو د کادر د کارکوونکي په توګه استخدامېږي.

**د تطبیق ساحه**

**څلورمه ماده:**

(۱) ددې مقررې حکمونه د ګمرکونو پرکادر تطبیقېږي.

(۲) د دې مقررې حکمونه د ګمرکونو د ادارې د ملاتړیزو، حرفوي او خدماتي بستونو پر کارکوونکو نه تطبیقېږي.

**د تطبیق مرجع**

**پنځمه ماده:**

د مالیې وزارت ددې مقررې د حکمونو د تطبیق مرجع ده.

کاندیدان واجد شرایط به اکادمی ملی گمرکات صورت می گیرد.

۵- امتحان نهایی: امتحان تحریری است که بعد ازفراغت ازاکادمی ملی گمرکات از کاندید اخذ می گردد وبراساس آن کاندید به عنوان کارکن کادرگمرکات استخدام می گردد.

**ساحهٔ تطبیق**

**مادهٔ چهارم:**

(۱) احکام این مقرره برکادرگمرکات تطبیق می گردد.

(۲) احکام این مقرره بر کارکنان بست های حمایوی، حرفوی و خدماتی ادارهٔ گمرکات، تطبیق نمی گردد.

**مرجع تطبیق**

**مادهٔ پنجم:**

وزارت مالیه مرجع تطبیق احکام این مقرره می باشد.

## دوه یم فصل

## استخدام

### دګمرکونو کادر

**شپږمه ماده:**

د ګمرکونو کادر لاندې ردیفونو رانغاړي:

۱- د لومړي او دوه یم بستونو شامل (ب) ردیف.

۲- د دریم او څلورم بستونو شامل (ج) ردیف.

۳- د پنځم او شپږم بستونو شامل (د) ردیف.

### د ګمرکونو په کادر کې استخدام

**اوومه ماده:**

د ګمرکونو په کادر کې استخدام د آزادې سیالۍ له لارې ددې مقررې، د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون او نورو اړوندو تقنیني سندونو له حکمونو سره سم صورت مومي.

## فصل دوم

## استخدام

### کادرگمرکات

**مادهٔ ششم:**

کادرگمرکات شامل ردیف های ذیل می باشد:

۱- ردیف (ب) شامل بست های اول و دوم.

۲- ردیف (ج) شامل بست های سوم و چهارم.

۳- ردیف (د) شامل بست های پنجم و ششم.

### استخدام در کادر گمرکات

**مادهٔ هفتم:**

استخدام درکادرگمرکات مطابق احکام این مقرره، قانون کارکنان خدمات ملکی و سایراسناد تقنینی مرتبط از طریق رقابت آزاد صورت می گیرد.

## د استخدام خاص شرطونه

**اتمه ماده:**

هغه شخص د ګمرکونو د کادر په توګه استخدامېدای شي چې په اوومه او اتمه ماده کې د درج شوو شرطونو د لرلو او د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون د څلوردېرشمې مادې د رعایت سربېره د لاندې شرطونو لرونکی هم وي:

۱- لږترلږه د لېسانس په کچه د لوړو زده کړو لرل.

۲- له کمپیوټري برنامو او انګلیسي ژبې سره بلدتیا او له ملي ژبو څخه پر یوې تسلط.

## د استخدام ازموینه

**نهمه ماده:**

(۱) د ګمرکونو د کادر په (۱ او ۲) بستونو کې د استخدام ازموینه د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون له حکمونو او د تعییناتو له طرزالعمل سره سم صورت مومي.

(۲) د (ج او د) ردیفونو له نوماندانو

## شرایط خاص استخدام

**مادۀ هشتم:**

شخصی به حیث کادرگمرکات استخدام شده می تواند که علاوه برداشتن شرایط مندرج مواد هفتم و هشتم و رعایت مادۀ سی و چهارم قانون کارکنان خدمات ملکی، دارای شرایط ذیل نیز باشد:

۱- داشتن حداقل تحصیلات عالی به سطح لیسانس.

۲- بلدیت به برنامه های کمپیوتری و زبان انگلیسی و تسلط به یکی از زبان های ملی.

## امتحان استخدام

**مادۀ نهم:**

(۱) امتحان استخدام دربست های (۱و۲) کادرگمرکات مطابق احکام قانون کارکنان خدمات ملکی و طرزالعمل تعیینات، صورت می گیرد.

(۲) ازکاندیدان ردیف های (ج و د)

ځخه عمومي ازموينه اخيستل کېږي.

(۳) هغه نوماندان چې په عمومي ازموينه کې معياري نمرې واخلي د مصاحبې پړاو ته لاره پيداکوي.

(۴) د ماليې وزارت د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمېسيون د استازي تر څارنې لاندې له اهل خبره سره په همکارۍ کې د ازموينې او مصاحبې پوښتنې برابروي.

(۵) ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوو بستونو د ازموينې له پروسې ځخه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمېسيون د استازو له لوري څارنه کېږي.

## د پوليګراف ازموينه

**لسمه ماده:**

په اجراآتو کې د روڼتيا د تأمين په منظور د (ب) رديف د ګمرکونو له کادر ځخه په نوي بست کې له تقرر او تبديلۍ ځخه مخکې د پوليګراف ازموينه اخيستل کېږي.

امتحان عمومی اخذ می گردد.

(۳) کانديدانی که درامتحان عمومی نمره معياری را اخذ نمايند به مرحلهٔ مصاحبه راه می يابند.

(۴) وزارت ماليه سوالات امتحان و مصاحبه را درهمکاری با اهل خبره تحت نظارت نمايندهٔ کميسيون مستقل اصلاحات اداری و خدمات ملکی ترتيب می نمايند.

(۵) پروسهٔ امتحان بست های مندرج فقرهٔ (۲) اين ماده ازطرف نمايندگان کميسيون مستقل اصلاحات اداری و خدمات ملکی نظارت می گردد.

## امتحان پوليگراف

**مادهٔ دهم:**

به منظور تأمين شفافيت در اجراآت، امتحان پوليگراف ازکادر گمرکات رديف (ب) قبل از تقررو تبديلی دربست جديد اخذ می گردد.

## دریم فصل
## د ګمرکونو په ملي اکاډمۍ کې شمولیت

**اکاډمۍ ته معرفي**

**یوولسمه ماده:**

(۱) د ګمرکونو د اداري د بشري سرچینو څانګه په تشکیل کې دننه بستونو په تناسب سره هغه نوماندان چې د مصاحبې په پایله کې مثبت ارزول شوي دي، د ګمرکونو ملي اکاډمۍ ته د زده کړې لپاره ورپېژني.

(۲) که چېرې د مصاحبې په پایله کې ثابته شي چې یوشمېر نوماندان د مساوي نمرو لرونکي دي، په دغه حالت کې د مهارت، تجربې او تخصصي زده کړو لرونکي هغه نوماند ته چې د هماغې برخې له معیارونو سره زیات مطابقت ولري ارجحیت ورکول کېږي.

(۳) د ګمرکونو ملي اکاډمۍ کې زده کړې د ورپېژندلو لپاره د مصاحبې پر بنسټ د نوماند انتخاب د نمرې د

## فصل سوم
## شمولیت در اکادمی ملی گمرکات

**معرفی به اکادمی**

**مادۀ یازدهم:**

(۱) بخش منابع بشری ادارۀ گمرکات، به تناسب بست های داخل تشکیل کاندیدانی را که درنتیجۀ مصاحبه مثبت ارزیابی گردیده اند، جهت آموزش به اکادمی ملی گمرکات معرفی می نماید.

(۲) هرگاه درنتیجۀ مصاحبه ثابت گردد که تعدادی از کاندیدان دارای نمرات مساوی می باشند، دراین حالت به کاندید دارای مهارت، تجربه و تحصیلات تخصصی که با معیارهای همان بخش مطابقت بیشتر داشته باشد، ارجحیت داده می شود.

(۳) انتخاب کاندید براساس مصاحبه برای معرفی به آموزش دراکادمی ملی گمرکات به ترتیب بلند بودن نمره

لوړوالي په ترتیب سره صورت مومي.

(۴) د هرو پنځو بستونو لپاره یو تن په ریزرف ډول د ګمرکونو ملي اکاډمۍ ته ورپيژندل کېږي.

که چېرې په تشکیل کې دننه بست له (۵) بستونو څخه لږوي په دې صورت کې هم یو تن د ریزرفي نوماند په توګه ورپیژندل کېږي.

## زده کړه ییزه دوره

دوولسمه ماده:

(۱) د ګمرکونو په ملي اکاډمۍ کې د (ج او د) ردیفونو د کارکوونکو زده کړه ییزه دوره لږترلږه څلور میاشتنۍ ده.

(۲) د ګمرکونو په ملي اکاډمۍ کې د (ب) ردیف د کارکوونکو زده کړه ییزه دوره لږترلږه دوه اونۍ ده.

(۳) د ګمرکونو ملي اکاډمي مکلفه ده، د زده کړه ییزې دورې له بشپړولو څخه وروسته د (ج او د) ردیفونو له نوماند څخه وروستنۍ ازموینه واخلي. د ترټولو لوړو نمرو په ترتیب سره بریالي

صورت می گیرد.

(۴) برای هرپنج بست، یک نفرطورریزرفی به اکادمی ملی گمرکات معرفی می گردد.

هرگاه بست داخل تشکیل کمتراز(۵) بست باشد دراین صورت نیز یک نفر به حیث کاندید ریزرفی معرفی می گردد.

## دورهٔ آموزشی

مادهٔ دوازدهم:

(۱) دوره آموزشی کارکنان ردیف های (ج و د) دراکادمی ملی گمرکات حداقل چهارماهه می باشد.

(۲) دورهٔ آموزشی کارکنان ردیف (ب) دراکادمی ملی گمرکات حداقل دوهفته می باشد.

(۳) اکادمی ملی گمرکات مکلف است، بعد از تکمیل نمودن دورهٔ آموزشی از کاندید ردیف های (ج و د) امتحان نهایی اخذ نماید. کاندیدان موفق به ترتیب بلند ترین نمرات،

نوماندان، د گمرکونو د کادر په بستونو کې توظيفېږي.

(۴) د زده کړه ييزې دورې د نوماندانو لپاره، هغه مدد معاش چې اندازه يې د ماليې وزارت په وړانديز او د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې په تصويب سره ټاکل کېږي، ورکول کېږي.

(۵) د زده کړه ييزې دورې درسي نصاب د گمرکونو د ادارې په واسطه تنظيمېږي.

## څلورم فصل

## دگمرکونو د کادر ذاتي چارې

**ترفيع**

**ديارلسمه ماده:**

(۱) د گمرکونو د کادر ترفيعات يوازې د رديف په دننه کې د لاندې شرطونو په پام کې نيولو سره صورت مومي:

۱- په تشکيل کې د خالي بست شتون.

۲- په بست کې لږترلږه د پنځو کلونو خدمت بشپړول.

۳- په بريالي ډول د اجراآتو د ارزونې د پنځو پړاوونو بشپړول.

دربست های کادرگمرکات توظيف می گردند.

(۴) برای کانديدان دورهٔ آموزش، مدد معاش که اندازهٔ آن به پيشنهاد وزارت ماليه وتصويب کابينه جمهوری اسلامی افغانستان تعيين می گردد، پرداخته می شود.

(۵) نصاب درسی دورهٔ آموزشی توسط ادارهٔ گمرکات، تنظيم می گردد.

## فصل چهارم

## امور ذاتی کادر گمرکات

**ترفيع**

**مادهٔ سيزدهم:**

(۱) ترفيعات کادرگمرکات صرف درداخل رديف با درنظرداشت شرايط ذيل صورت می گيرد:

۱- موجوديت بست خالی درتشکيل.

۲- تکميل حداقل پنج سال خدمت دربست.

۳- تکميل پنج مرحلهٔ ارزيابی اجراآت به صورت موفقانه.

۴- د لوړ بست د دندو په لایحه کې د درج شوي لږترلږه تحصیلي درجې لرل.

۵- د خدمت دننه اختصاصي زده کړو د برنامو بشپړول.

(۲) که چېرې دوه یا له دوو څخه زیات مامورین ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي شرطونه بشپړ کړي وي هغه مامور ته ارجحیت ورکول کېږي چې په اوسني بست کې یې ډېر خدمت کړی وي. په هغه صورت کې چې په شرایطو برابر مامورین په بست کې د خدمت یوشان سابقه ولري، د نوموړو مامورینو ترمنځ د داخلي سیالۍ پر بنسټ، ترفیع صورت مومي.

(۳) اداره کولی شي ددې مادې په (۱) فقره کې ددرج شوو شرطونو لرونکو مامورینو د نه شتون په صورت کې، خالي بست اعلان کړي.

## دوراني تبدیلي

### څوارلسمه ماده:

(۱) د ګمرکونو د کادر مامورین له

۴- داشتن حداقل درجهٔ تحصیلی مندرج لایحهٔ وظایف بست بالا.

۵- تکمیل نمودن برنامهٔ اختصاصی آموزش های داخل خدمت.

(۲) هرگاه دو یا بیشتر از دو مامور شرایط مندرج فقرهٔ (۱) این ماده را تکمیل نموده باشد به ماموری ارجحیت داده می شود که دربست فعلی خدمت بیشتر کرده باشد. در صورتی که مامورین واجد شرایط دارای سابقه یکسان خدمت دربست باشند، به اساس رقابت داخلی میان مامورین متذکره، ترفیع صورت می گیرد.

(۳) اداره می تواند درصورت عدم موجودیت مامورین واجد شرایط مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، بست خالی را اعلان نماید.

## تبدیلی دورانی

### مادهٔ چهاردهم:

(۱) مامورین کادر گمرکات

هرو دريو کلونو خدمت څخه وروسته په دوراني ډول په معادل يا ورته بستونو کې تبديلېږي.

(۲) په شته بست کې د درې کاله خدمت له ميعاد څخه د مخه د مامور تبديلي يواځې د اړتيا او د ګمرکونو د ادارې د لزوم ديد په حالتونو کې دملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون او د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د ذاتي چارو د مقررې له حکمونو سره سم صورت مومي.

(۳) د ګمرکونو اداره مکلفه ده، ددې مادې د (۱) فقرې له حکم سره سم د مامورينو د دوراني تبديلۍ جدول ترتيب کړي.

(۴) دوراني تبديلي د ګمرکونو د ادارې په وړانديز او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمېسيون له لوري د دندو د لايحې د ورته والي له تأييد څخه وروسته د تقرر د منظوروونکو واکمنو مقاماتو په واسطه صورت مومي.

بعد ازهرسه سال خدمت به شکل دورانی دربست های معادل و مشابه تبديل می گردند.

(۲) تبديلی مامور قبل از ميعاد سه سال خدمت دربست موجود صرف در حالات ضرورت ولزوم ديد ادارۀ گمرکات در مطابقت با احکام قانون کارکنان خدمات ملکی و مقررۀ امور ذاتی کارکنان خدمات ملکی صورت می گيرد.

(۳) ادارۀ گمرکات مکلف است، جدول تبديلی دورانی مامورين را مطابق حکم فقرۀ (۱) اين ماده ترتيب نمايد.

(۴) تبديلی دورانی به پيشنهاد ادارۀ گمرکات و بعد از تأييد مشابهت لايحۀ وظايف از جانب کميسيون مستقل اصلاحات اداری وخدمات ملکی، توسط مقامات ذيصلاح منظورکنندۀ تقرر، صورت می گيرد.

## پنځم فصل

## امتیازونه او مکلفیتونه

**امتیازونه**

**پنځلسمه ماده:**

(۱) د ګمرکونو کادر په اړوندو تقنیني سندونو کې د اټکل شوو حقوقو سربېره، د کادري امتیازاتو لرونکي دي.

(۲) د ګمرکونو دکادر مادي امتیاز، د بست او د دندې د خصوصیاتو له په پام کې نیولو سره د مالیې وزارت له لوري د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمېسیون په موافقې او د افغانستان د اسلامي جمهوریت د کابینې په تصویب په جلا سند کې تنظیمېږي.

(۳) د ګمرکونو اداره دګمرکونو د مامورینو د مسکن برابرولو او روغتیایي بیمې په اړه د لاندې مکلفیتونو لرونکې ده:

۱- له اړوندې کړنلارې سره سم د دولت د مالي امکاناتو په پام کې نیولو

## فصل پنجم

## امتیازات و مکلفیت ها

**امتیازات**

**مادۀ پانزدهم:**

(۱) کادرگمرکات برعلاوه حقوق پیشبینی شده دراسناد تقنینی مربوط، دارای امتیازات کادری می باشند.

(۲) امتیاز مادی کادرگمرکات با درنظرداشت بست و خصوصیات وظیفوی ازطرف وزارت مالیه به موافقه کمیسیون مستقل اصلاحات اداری وخدمات ملکی وتصویب کابینه جمهوری اسلامی افغانستان در سند جداگانه تنظیم می گردد.

(۳) ادارۀ گمرکات دررابطه به تهیه مسکن و بیمه صحی مامورین گمرکات دارای مکلفیت های ذیل می باشد:

۱- تهیه مسکن ازطریق ایجاد شهرک های مصون در

سره له ګمرکونو سره نږدې د خوندي ښارګوټو د رامنځته کولو لــه لارې د مسکن برابرول.

۲- د کارکوونکي شخص او د هغه د کورنۍ د غړو( مور، پلار، مېرمن/خاوند او اولاد) د روغتیـــایي لګښــــتونو د مجموع د (۸۰٪) معادل روغتیایي بیمه چې د کال په جریـــان کــې د هغــې مجمــــوع د ملکـــي خــــدمتونو د کارکوونکو د لومړي بست د لــومړي قدم د یوې میاشتني معاش له معادل مبلغ څخه زیات نه وي.

مکلفیت

شپاړسمه ماده:

د ګمرکونو کادر له تقرر څخه مخکې د شتمنۍ په ثبت مکلـــف دی چـــې د قانون له حکمونو سره سم په کلني ډول د اړوندو مراجعو پـــه واســـطه ارزول کېږي او ثبتېږي.

نزدیکی گمرکات با درنظـــر داشـــت امکانات مالی دولت، طبق طرزالعمـــل مربوط.

۲- بیمهٔ صحی معادل (۸۰٪) مجموع مصـــــارف صـــــحی شـــــخص کارکن واعضـــای فامیـــل موصـــوف (پدر، مـــادر، همســـر و فرزنـــدان) کــه مجمـــوع آن درجریـــان ســـال بیشـــتر ازمبلـــغ معـــادل معـــاش یـــک ماهـــه قـــدم اول بســـت اول کارکنــــــان خـــــدمات ملکــــــی نباشد.

مکلفیت

مادهٔ شانزدهم:

کادرگمرکـــات مکلـــف بـــه ثبـــت دارایــــــی قبــــــل از تقرربــــــوده که مطابق احکام قانون طـــور ســـالانه توسط مراجع مربوط ارزیابی و ثبـــت می گردد.

## شپږم فصل
## وروستني حکمونه

**اړوندو بستونو ته د مامورینو ورپېژندل**

**اوولسمه ماده:**

(۱) د ګمرک د اداري د بشري سرچینو څانګه مکلفه ده، د قانون له حکمونو سره سم په مرکز او ولایتونو کې د بریالیو نوماندانو تقرر له پړاوونو څخه تېر او اړوندو بستونو ته وروپېژني.

(۲) د ګمرکونو کادر د استخدام د پروسې له وروستي کېدو وروسته، د اصلي او امتیازي معاش مستحق کېږي.

**لوړه**

**اتلسمه ماده:**

د ګمرکونو کادر د دندې له اشغالولو څخه مخکې، د اعطاء آمر په حضور کې لاندې لوړه ترسره کوي:

د الله (ج) په نامه لوړه کوو خپلې دندې د یوه مسلمان او وطن دوست افغان په

## فصل ششم
## احکام نهایی

**معرفی مامورین به بست های مربوط**

**مادهٔ هفدهم:**

(۱) بخش منابع بشری اداره گمرک مکلف است، درمرکز و ولایات تقررکاندیدان موفق را مطابق احکام قانون طی مراحل و به بست های مربوطه معرفی نماید.

(۲) کادرگمرکات بعد از نهایی شدن پروسهٔ استخدام، مستحق معاش اصلی و امتیازی می گردند.

**سوگند**

**مادهٔ هجدهم:**

کادرگمرکات قبل ازاشغال وظیفه، حلف آتی را در حضور آمر اعطاء به جا می آورند:

بنام خداوند (ج) سوگند یاد می کنیم وظایف خود را با کمال امانت داری،

توګه له هر ډول شخصـــي، قــومي، سمتي، مذهبي او سياسي تمـــايلاتو او وابستګيو څخه مبرا د اسلامي شريعت، د افغانستان د اساسي قانون، د ګمرکي قوانينو، مقررو او نورو تقنيني سندونو له حکمونو سره ســـم پـــه بشـــپړې امانتدارۍ، رينښتنولۍ او ايماندارۍ سره ترسره کوم او په مستقيم او غير مستقيم ډول په خيانت، حق تلفۍ، بې عدالتۍ او اداري فساد لاس نه پـــورې کـــوم او د هغـــو پـــه وړانـــدې مبـــارزه کوم.

د استخدام له بهير څخه څارنه

نولسمه ماده:

د اداري اصلاحاتو او ملکي خـــدمتونو خپلواک کمېسيون د عدالت، روڼوالي، شايسته سالارۍ، د قوانينو، مقـــررو او لارښودونو يوشان تطبيق له تأمين او بې پرې توب له رعايـــت څخـــه د ډاډ د ترلاسه کولو په منظور له مصاحبې او د استخدام له پروسې څخه څارنه کوي.

صداقت و ايمانداری مطـــابق احکـــام شريعت اســــلامی، قـــانون اساســـی افغانستان، قوانين، مقرره ها وسايراسناد تقنينی گمرکی به مثابه يـــک افغـــان مسلمان ووطن دوست مبرا ازهر گونه تمايلات و وابستگی های شخصـــی، قومی، سمتی، مذهبی و سياسی اجـــرأ می نمـــايم وبـــه صـــورت مســـتقيم وغيرمستقيم به خيانت، حـــق تلفـــی، بی عدالتی وفســـاد اداری مبـــادرت نمـــی ورزم وعليـــه آنهـــا مبـــارزه می کنم.

نظارت از روند استخدام

مادۀ نزدهم:

کميسيون مستقل اصـــلاحات اداری و خدمات ملکـــی بـــه منظورحصـــول اطمينـــــان از تـــــأمين عـــــدالت، شفافيت، شايسته ســـالاری، تطبيـــق يکسان قوانين، مقرره ها و رهنمود ها و رعايت بی طرفـــی، از مصـــاحبه و پروسه استخدام نظارت می نمايد.

## د کړنلارو وضع کول

**شلمه ماده:**

د ماليې وزارت کولی شي ددې مقررې د حکمونو د غوره تطبيق په منظور کړنلارې وضع کړي.

## د تعييناتو د کړنلارې تطبيق او شکايتونو ته رسيدگي

**يوويشتمه ماده:**

که چېرې په دې مقرره کې په تعييناتو او شکايتونو ته په رسيدگۍ پورې د اړوندو نورو چارو په اړه د کوم حکم اټکل نه وي شوی، د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د تعييناتو کړنلاره او شکايتونو ته د رسيدگي کړنلاره د تطبيق وړ دي.

## انفاذ

**دوه ويشتمه ماده:**

دغه مقرره په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

## وضع طرزالعمل ها

**مادۀ بيستم:**

وزارت ماليه می تواند به منظورتطبيق بهتراحکام اين مقرره طرزالعمل ها را وضع نمايد.

## تطبيق طرزالعمل تعيينات و رسيدگی به شکايات

**مادۀ بيست و يکم:**

هرگاه درمورد سايرامورمربوط به تعيينات و رسيدگی به شکايات دراين مقرره حکم پيشبينی نه گرديده باشد، طرزالعمل تعيينات کارکنان خدمات ملکی و طرزالعمل رسيدگی به شکايات، قابل تطبيق می باشند.

## انفاذ

**مادۀ بيست و دوم:**

اين مقرره از تاريخ نشردرجريدۀ رسمی نافذ می گردد.

## د مدرسو او د مسلکي تعلیماتو د مؤسسو د تدریسي فني کادر د حقوقو او امتیازونو د مقررې د دویمې او اتمې مادې د تعدیل د انفاذ په هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس حکم

ګڼه: (۲۷۹۱)

نېټه: ۴ /۱۲/ ۱۳۹۷

لومړۍ ماده:

د مدرسو او مسلکي تعلیماتو د مؤسسو د تدریسي فني کادر د حقوقو او امتیازونو د مقررې د دویمې او اتمې مادې د تعدیل چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې ۱۳۹۷/۱۰/۶ نېټې د (۱۸) ګڼه مصوبې پربنسټ د (۲) مادو په دننه کې تصویب شوی دی، منظوروم.

دوه یمه ماده:

دغه حکم دې د افغانستان اسلامي

## حکم رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد انفاذ تعدیل مواد دوم و هشتم مقررۀ حقوق و امتیازات کادر فنی تدریسی مدارس و مؤسسات تعلیمات مسلکی

شماره : (۲۷۹۱)

تاریخ: ۴ /۱۲/ ۱۳۹۷

مادۀ اول:

تعدیل مواد دوم و هشتم مقررۀ حقوق و امتیازات کادر فنی تدریسی مدارس و مؤسسات تعلیمات مسلکی را که به اساس مصوبۀ شماره (۱۸) ۱۳۹۷/۱۰/۶ کابینۀ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۲) ماده تصویب گردیده است، منظور می دارم.

مادۀ دوم:

این حکم همراه با مصوبۀ

جمهوریت د کابینې له مصوبې او د یاد شوي تعدیل له متن سره یو ځای دې په رسمي جریده کې خپور شي.

محمد اشرف غني

دافغانستان اسلامي جمهوریت رئیس

کابینـــــۀ جمهـــــوری اســــــلامی افغانســـــتان و مـــــتن تعـــــدیل مذکور در جریدۀ رسمی نشر گردد.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

## د مدرسو او د مسلکي تعلیماتو د مؤسسو د تدریسي فني کادر د حقوقو او امتیازونو د مقررې د دوه یمې اواتمې مادې دتعدیل دطرحې په هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې مصوبه

گڼه: (۱۸)
نېټه: ۶ /۱۰ /۱۳۹۷

د افغانستان اسلامي جمهوریت کابینې د مدرسو او مسلکي تعلیماتو د مؤسسو د تدریسي فني کادر د حقوقو او امتیازونو د مقررې د دوه یمې او اتمې مادې د تعدیل طرحه د خپلې ۶/ ۱۰ /۱۳۹۷ نېټې په غونډه کې د (۲) مادو په دننه کې تصویب کړه.

محمد اشرف غني
د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس

## مصوبهٔ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان درمورد طرح تعدیل مواد دوم و هشتم مقررهٔ حقوق و امتیازات کادر فنی تدریسی مدارس و مؤسسات تعلیمات مسلکی

شماره : (۱۸)
تاریخ: ۶ /۱۰ /۱۳۹۷

کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان طرح تعدیل مواد دوم و هشتم مقررهٔ حقوق و امتیازات کادر فنی تدریسی مدارس و مؤسسات تعلیمات مسلکی را در جلسهٔ شماره (۱۸) مؤرخ ۱۳۹۷/۱۰/۶خویش به داخل (۲) ماده مورد تصویب قرار داد.

محمد اشرف غنی
رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

## د مدرسو او د مسلکي تعلیماتو د مؤسسو د تدریسي فني کادر د حقوقو او امتیازونو د مقررې د دوه یمې او اتمې مادې تعدیل

**لومړۍ ماده:**

د ۱۴۲۲ هـ ق د محرم الحرام د ۲۹ نېټې د (۷۹٦) ګڼه رسمي جریده کې خپره شوې د مدرسو او د مسلکي تعلیماتو د مؤسسو د تدریسي فني کادر د حقوقو او امتیازونو د مقررې دوه یمه او اتمه ماده دې په لاندې متن تعدیل شي:

**دوه یمه ماده:**

د تدریسي فني کادر غړی: هغه شخص دی چې د تخنیکي او مسلکي تعلیماتو د ادارې له اکاډمیکي بستونو څخه په یوه کې اشتغال ولري.

اکاډمیک بستونه: د تعلیمي مؤسسو د ښوونکو، استادانو، مدیرانو، تدریسي او فني مرستیالانو، د تخنیکي او مسلکي تعلیماتو د ادارې د رئیسانو، امرانو، مدیرانو او د مسلکي غړو

## تعدیل مواد دوم و هشتم مقررۀ حقوق و امتیازات کادر فنی تدریسی مدارس و مؤسسات تعلیمات مسلکی

**مادۀ اول:**

مواد دوم و هشتم مقررۀ حقوق و امتیازات کادر فنی تدریسی مدارس و مؤسسات تعلیمات مسلکی منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۷۹٦) مؤرخ ۲۹ محرم‌الحرام ۱۴۲۲هـ.ق به متن ذیل تعدیل گردد:

**مادۀ دوم:**

عضو کادر فنی تدریسی: شخصی است که در یکی از بست‌های اکادمیک ادارۀ تعلیمات تخنیکی و مسلکی اشتغال داشته باشد.

بست های اکادمیک: شامل بست های معلمان، استادان، مدیران، معاونین تدریسی و فنی، مؤسسات تعلیمی، رؤسا، آمرین، مدیران و اعضای مسلکی ادارۀ تعلیمات تخنیکی و

بستونه شامل دي.

اتمه ماده:

که چیرې د تدریسي فني کادر غړی د تخنیکي او مسلکي تعلیماتو د ادارې په اداري بستونو کې وټاکل شي په هغه صورت کې کولی شي د تدریسي فني کادر له حقوقو څخه ګټه واخلي چې په اونۍ کې لږ تر لږه شپږ ساعته تدریس وکړي. د اکاډمیکي بستونو رئیسان، آمران، مدیران او مسلکي غړي له دې حکم څخه مستثني دي.

دوه یمه ماده:

دغه تعدیل دې په رسمي جریده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذ شي.

مسلکی می باشد.

مادۀ هشتم:

هرگاه عضو کادر فنی تدریسی در بست‌های اداری ادارۀ تعلیمات تخنیکی و مسلکی مقرر شود در صورتی می‌تواند از حقوق کادر فنی تدریسی استفاده نماید که حداقل شش ساعت در هفته تدریس نماید. رؤسا، آمرین، مدیران و اعضای مسلکی بست های اکادمیک از این حکم مستثنی می‌باشند.

مادۀ دوم:

این تعدیل از تاریخ نشر در جریدۀ رسمی نافذ گردد.

# اشتراک سالانه:

در مرکـــــز و ولایـــــات : (۹۰۰) افغـــــانی

بـــرای مـــامورین دولـــت: بـــا ۲۵ فیصـــد تخفیـــف

برای متعلمین و محصلین با ارائه تصـــدیق، نصـــف قیمـــت

برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی جلد

خـــارج از کشـــور: (۲۰۰) دالـــر امریکـــائی

# ISLAMIC REPUBLIC
# OF
# AFGHANISTAN
# MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

## Extraordinary Issue

- **Law on Professional Accountants**
- **Regulation on Customs Cadre**
- **Amendment to Article Tow and Eight of Regulation on Rights and Privileges of Technical Educational Cadre of Madrasas and Technical Educational Institutions**

**Date:2nd March.2019**
**ISSUE NO:(1331)**